مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۰۳/۱۸

# د ژوند نغمه

بې کچه مینه سباوون کې وینم
خواږه رنګونه په ژوندون کې وینم

د یار د زني شنه خالونه ستایم
د تورو زلفو یې ټالونه ستایم
زه محبت د ځان بدلون کې وینم
خواږه رنګونه په ژوندون کې وینم

شړنګ د پاولو لیونی کړمه زه
د مړوند خوب دې سپیلنی کړمه زه
د زړه تسل په دې تړون کې وینم
خواږه رنګونه په ژوندون کې وینم

لکه طوفان چې په دریاب عذاب وي
داسې بې مینې ژوند عذاب، عذاب وي
بقا د ژوند لار د سمون کې وینم
خواږه رنګونه په ژوندون کې وینم

شړنګ و شوخي نزاکتونه غواړم
ډک له شرابو نه جامونه غواړم
اضطرابي حد، په سکون کې وینم
خواږه رنګونه په ژوندون کې وینم

مصطفی پسرلی
15/03/2019



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ